# ویلنټائن نائیټ

زیارت — 13/02/1969

”ژلوریا سولومانوف“ اؤ پخپله ”سولومانوف“ دواړه یؤ بل سره ډېر مطمئن دی. سولومانوف هغه مړونو کښې نهٔ دے ، کوم چې دَ خپلو مېرمنو په هره خبره نیوکې کوی اؤ ژلوریا هغه مېرمنو کښې نهٔ ده ، کومې چې دَ خپل مېړهٔ هره خبره په بده اخلی. داسې دوؤ حالتونو کښې کېدې شی..... یا خو په یؤ بل ډېر باور اؤ یا یؤ بل نه ډېره مړه خوا. دواړه دَ یؤ بل په څهٔ ټولنیزو ټرونونو اؤ ملګرتیاؤ هم ګوتې نهٔ اوچتوی اؤ دغه رنګ ئې ژوند په یوه ډېره هواره لاره روان ساتلے وی. سولومانوف خپل روزګار کوی اؤ دومره ګټی ، چې دَ هغهٔ اؤ ژلوریا وخت پرې ډېر ښهٔ تیرېږی. ژلوریا ټوله ورځ کور کښې وی ، خو کله کله چې دَ ملګرو څهٔ غونډه وی ، نو سولومانوف ته یؤ څل خامخا وائی. هسې خو زیاتره دَ ملګرو اؤ سوېلو سره ناستې دَ پاره هغه وخت ټاکلے کیږی ، کله چې شپه پیغله شی. دغه وخت هم سولومانوف دَ هغې لاره نهٔ نیسی. دواړه سحر چې یؤ ځائے څښی ، ماښام ډوډۍ زیاتره دَ دواړو بهر وی ، خو یوه پیالۍ چۍ اؤ څو خبرو دَ پاره یؤ بل سره څو شېبو له ناسته هر ماښام کیږی. دواړه یوه کوټه کښې څملی اؤ هر څو کهٔ بېل هم اُودهٔ کیږی ، خو یؤ کټ کښې څملی. نن به کال پوره شی ، چې سولومانوف خپله غېږه کښې دَ ژلوریا پستې سینې اؤ دَ هغې دَ تؤدې ساه خوند اخستلے ؤ. دَ سولومانوف شونډې کهٔ هر څو اوس هم پخېر راغلی اؤ په مخه ښه کښې دَ ژلوریا دَ شونډو نه تپ اخلی ، خو نن کال پوره شو ، چې دَ هغهٔ لاس دَ هغې په خوړنو کوناټو خوئېدلی وو اؤ دَ هغهٔ لینګی دَ هغې دَ غْمانو تاؤ سره تاؤده شوی وی اؤ دَ هغې په شونډو ئې شخوند وهلے وی. دَ هغوی دې رویې نه زمونږ ټولنه کښې کرکه کیږی ، خودې نه مخ اړول اسان نهٔ دی ، چې زمونږ ټولنه کښې ډېرو خلقو دغسې رویې دَ خپلو کورونو دېوالونو کښې په څهٔ نا څهٔ ډول خپلې کړې دی.

په ایم تی وی دَ انګرېزۍ ژبې سندره کهٔ هر څو دَ سولومانوف پوهې نه لرې وه ، خو سندرې سره نڅېدونکې څانګې دَ هغهٔ بوخت ساتلو له ډېرې وې. هغهٔ یؤ بالښت سر نه لاندې اؤ بل ئې دواړو پښو کښې نیولے ؤ. سائیډټېبل باندې پرته ایشسټرا کښې هغه سیګرټ نه ختونکے لوګے روکېدونکے ؤ ، کوم چې ډرېسنګ ټېبل ته څېلمه ناستې ژلوریا ته څو شېبې اګاهو هغهٔ دَ ننداره په وخت خپلو ګوتو نه لرې کړے ؤ. هغه وخت ژلوریا دَ خپلو سُوربخنو شونډو چاپېره کرښه تاوهله. سندرې سره نڅېدونکې هره جینۍ کښې هغهٔ ته ژلوریا برېښېدله. سپینې پنډۍ ، چې کُونډۍ وْرنونو سره هوارې وې. سپین پټونان ، چې خوځښت سره به لکه په پیو پروت پیروے وُرپېدل. ډېرې غټې نهٔ ، خو څهٔ لږې جیګې شوې سینې ، چې دَ نڅا په وخت هر جول اؤ ټوپ سره به ئې جُوتې خوړلې. سینې نه ښکته نرۍ کېدونکې اؤ کوناټو ته په رسېدلو بیا پلنېدونکې خېټه ، چې نوم پکښې دَ نورو نه زیات ژور ؤ. دَ نوم نه لاندې وېښتهٔ داسې لکه چې وی نهٔ اؤ هم په دغه ځائے دَ بلبلکۍ انځور. هغهٔ به شېبه پس خپله شونډه په غاښونو کښې وُزورله اؤ ښانګو کښې نیولی بالښت له به ئې زور ورکړو. دَ ډرېسنګ ټېبل هنداره کښې ژلوریا هم دَ سولومانوف ننداره دَ بې غرضۍ په پرده کښې کوله.

ژلوریا پاڅېدله. په هغې هر رنګ ښکلے ښکاری ، خو دَ سُور رنګ اغوستن دَ هغې ښائست یؤ په دوه کوی. سولومانوف لږ نېغ شو ، چې ژلوریا څْلهٔ ورنزدې کړه. دَ هغهٔ شونډې کهٔ هر څو شخوند وهلو ته تښنېدلې ، خو دَ ژلوریا اوس اوس کړی ډول دَ هغهٔ شونډې وُنیولې.

”دَ کرسټینا کره ناوخته پورې ناسته ده“.

”زهٔ درپسې درشم ؟“.

"کرستینا به ما راؤرسوی. تهٔ چرته ځې ؟"
"څو ملګری هوټل کښې یؤ ځاے کیږو. درې ګېنټې".
چې دَ سولومانوف سترګې له ټی وی ؤ نهٔ وتلې ، نو ژلوریا روانه شوه. هغهٔ دَ ور په پورې کېدلو دَ رېموټ هره تڼۍ یؤ یؤ ځل ؤټومبله ، چې دَ سندرو ، ډِزو ، خبرو اؤ نورو غږونو یوه لړۍ څو شېبو دَ پاره کوټه کښې په انګازه شوې وه.
دَ هوټل په هال کښې رنګ رنګ رڼاګانې ساه په ساه ځلېدلې اؤ روکېدلې. دَ پېغلې شپې (ورجن نائیټ) موسیقۍ سره پستې لیچې دَ خپل خپل ویلنټائن غاړه کښې ځېره شوې وې. هیجان زلې ؤ. په جذبو جوبن ؤ. ګناه دَ خوند سیوری کښې خندا نه شنه شوې وه. په فرسټ فلور دَ 713 کېبن ور کښې دَ ژلوریا په ښۍ کوناټی دَ هغې کیڼ اړخ ته ، خو هغې نه نیم ګام وروستو دَ راټلونکی ګارکوف کیڼ لاس پروت ؤ ، چې دَ هغې سترګې دَ کېبن 712 ور کښې دننه تلونکی سولومانوف سره مخ شوې. سولومانوف سره چې هر څوک وه ، خو دَ اغوستن زیړ رنګ نه ئې برېښېدله ، چې دې شپې دَ پاره ئې دَ هغهٔ دَ خوښې رنګ اغوستلے ؤ. دَ کېبن 712 اؤ 713 منځ کښې دېوال کهٔ هر څو دواړه اړخونه یؤ بل نه پټ کړی وو ، خو دَ دواړو اړخونو دَ اوازونو ستر ئې نهٔ شو ساتلے. کرستینا پاځتر پرته وه اؤ په هغې سولومانوف لکه دَ کُوَر خور شوے ؤ. دَ ژلوریا مُلا ګارکوف په دواړو لپو اؤ دَ هغې کوناټی دَ هغهٔ په دواړو پټونانو ډډه شوی وو. راټلونکو غږونو نه دَ سولومانوف غوږونو دَ ژلوریا اؤ دَ ژلوریا غوږونو دَ سولومانوف اواز چڼ کولو اؤ دَ دغه اواز ښخولو دَ پاره به ئې خپل اواز ښهٔ اوچت اؤ اُوږد کړو.

جمعه — 14/02/1969

نمر تیارې جارو کړې وې ، چې سولومانوف خپلې کوټې ته دننه شولو. په کټ کښې ژلوریا خوره وره پرته وه. دَ هغې دَ ښی لاس نه لاندې ښۍ سینه ښکاره شوې وه اؤ مُلا اؤ پنډۍ ئې دَ برستن نه بهر وې. سولومانوف هغې ته لږ نزدې شو ، خو خداے زده چې زړهٔ ئې په څهٔ خبره بیا ستون کړو. هغه دَ کټ بل اړخ ته دېوال ته مخ کړے څملاستلو.
باید چې سولومانوف اؤ ژلوریا دَ یؤ بل خوب خراب نهٔ کړی. بېګا به دَ دواړو ملګری اؤ سوېلۍ دستورې له راځی. بېګا له دَ هغوی دَ وادهٔ دوېمه کلیزه ده.